محمد رحيم جاويد ۲۰۱۲/۰۳/۲۱

# د پنجوايي عام وژنه له حقوقي پلوه

د مارچ په يوولسمه ظاهريو تن امريکايي پوځي د کندهار ولايت په پنجوايي ولسوالۍ کې ۱۶ تنه ملکي افغانان چې ۹ تنه يې کوچنيان وو، په وحشيانه توګه ووژل. له حقوقي پلوه دغه پېښه، لږ تر لږه د "بشريت ضد جنايت" بلل کيږي.
غواړم په دې ليکنه کې پېښه يوازې د نړيوالو کورنيو قوانينو په رڼا کې په لنډه توګه تحليل کړم. هڅه کوم چې په دغه شننه کې، ترسره شوي جنايت ته له احساساتو او تأثراتو پرته، يوازي له حقوقي زاويې وګورم.

**د پېښې بهير**

د نړيوالو او کورنيو رسنيو له مخې، د ۲۰۱۲ د مارچ په يولسمه د شپې په ورستيو کې، يو امريکايي پوځي د کندهار ولايت پنجوايي ولسوالۍ کې دريو جلا جلا کورنو ته ننوت او د ښځو، ماشومانو او سړيو په ګډون يې، شپاړس تنه ملکي افغانان په بيرحمانه توګه په ډزو ووژل. خبري سرچينو دا هم ويلي چې وروسته قاتل د وژل شويو ملکي افغان کليوالو جسدونو ته اور واچولو.
امريکايي پوځي چارواکو په قتل د تورن نوم بريدمن رابرت بيلز اعلان کړی، چې ۳۸ کاله عمر لري. د تورن نوم له پېښې پنځه ورځې وروسته هغه مهال په ډاګه کړای شو، چې نوموړی له افغانستانه امريکا ته وايستل شو. ويل کيږي چې نوموړی د امريکا د کنساس ايالت په يوه پوځي زندان کې تر توقيف لاندې دی او وروسته به محاکمه کړای شي.

**جنايت يوه کس که يوې ډلې ترسره کړی؟**

امريکايي چارواکو د دغه عام وژنې پړه يوازې پر يوه کس اچولې او ادعا لري چې د شپاړس تنو ډله ييزه وژنه همدې کس چې نوم يې رابرت بيلز ښودلی دی، په يوازې سر ترسره کړې دی.
خو به پېښه کې د وژل شويو کسانو د کورنيو غړو په ارګ کې د کابل اداري مشر حامد کرزي ته وويل چې دا کار د يوه کس نه، بلکه د دوی کورنۍ د يوې پوځي ډلې له خوا به بيلو بيلو ځايونو کې په داسې حال کې چې په خوب ويدې وې، تر بريد لاندې راغلي.
د کابل حکومت لخوا د پېښې سيمې ته د حقيقت موندنې پلاوي هم تأييد کړه چې دغه ډله ييزه وژنه د يوې ډلې لخوا ترسره شوې ده. د دغه هيأت مشر شيرمحمد کريمي دا هم ويلي دي چې امريکايانو، د پېښې په څيړلو کې يې له دوی سره مرسته نه ده کړې. او د کابل چارواکو لخو دا هم ويل شوي، چې د سيمې پر سر د څارونکي بالون ويډيويي فلم هم له دوی نه پټ ساتل شوی. د پېښې په اړه د ولسي جرګې پلټونکي پلاوي هم له خپلو څيړنو وروسته وويل چې په پنجوايي کې د ۱۶ تنو بېګناه افغان کليوالو په وژنه کې له ۱۵ تر ۲۰ امريکايانو برخه لرلې ده.
په خپله حامد کرزي هم دا خبره ومنله چې د کندهار پنجوايي ولسوالۍ کې د شپاړسو ملکي وګړو وژنه د يو تن کار نه دی. ده وويل چې تر بريد لاندې راغلو کورونو نه په يوه کور کې په څلورو کوټو کې ماشومان او ښځې وژل شوي او بيا بلې کوټې ته راوړل شوي او وروسته اور ورته اچول شوی، چې دغه کار يو کس نه شي ترسره کولای.
کيدای شي چې وروسته د پلټنو په لړ کې نور شواهد هم رابرسيره شي. خو اوسني شواهد لاندې ټکي تاييدوي:
په پېښه کې لږتر لږه شپارس تنه وژل شوي.( که څه هم د پنجوايي ولسوالۍ سيمه ييزو چارواکو د وژل شويو کسان شمير ۱۷ تنه ښودلی دی.)
وژل شوي کسان وسله وال نه بلکه ټول ملکي افغانان دي.
پېښه د تصادف او يا د اشتباه له مخې نه بلکه پر دې ټول اړخونه په يوه خوله دي چې دا وژنه د قصدي عمل په پايله کې رامنځته شوې.
د پېښې عامل يا عاملين امريکايي پوځيان دي. که څه هم امريکايي چارواکي ادعا لري چې دغه جنايت يوازې يو پوځي ترسره کړی. دغه پوځي هم د هغه د دفاع وکيل په وينا روحي ناروغي لرله. خو د اغيزمن شويو کورنيو غړو وينا دا ده، چې په دغه جنايت کې يوه کس نه بلکه د پوځيانو يوې ډلې لاس درلود.
له بلې خوا د پلټنې پلاوي مشر چې پوځي ماهر دی وايي چې دغه وژنې د ډيرو کسانو کار دی. د پېښې په اړه د پلټونکي پلاوي سره د امريکايي چارواکو مرسته نه کول په تيره بيا د پېښې په اړه د څارونکي بالون اخيستل شوې ويډيويي فلم پټ ساتل چې د کابل چارواکو لخوا يې ادعا شوې ده، د پېښې په اړه د امريکايي لوري ادعا ناسمتوب نور هم پياوړی کوي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**د قاتل دماغي ناروغۍ**

د رابرټ بیلز د کورنۍ له خولې د نوموړي وکیل جان هینري وایي چې دی یو عادي او نورمال سړی و که څه هم امریکایي پوځ د نوموړي دماغي ستونزه مطرح کړې ده. جان هینري دا هم ویلي دي چې تورن قاتل ښه پوځي مخینه لرله او د ډیرې ښې کورنۍ سره یې تړاو درلود. د تورن قاتل ملګري او خپلوان هم دا وايي چې نوموړی یو خوشاله سړی و او له ژوند سره یې مینه لرله. بل ځای دغه وکیل وایي چې موکل یې په عراق کې ټپي شوی او دماغي ضربه یې لیدلې وه. خو نوموړی وکیل له خپل موکل سره له لومړۍ لیدنې وروسته خبري سرچینو ته ویل چې تورن قاتل یو مجرب سرتیری دی اوتمه نه کیږي چې دی به د روحي ناروغۍ په تشخیص تکیه وکړي بلکې دفاعیه به یې پر دې ولاړه وي چې دی د احساساتو د ړنګیدا له لامله سربداله شوی و. د دې ترڅنګ داسې ادعا هم شوې دغه پوځي د پیښې پر شپه شراب څکلي وو.

په دې اړه ادعاوې ضد اونقیض دي چې پوښتنې او شکونه راولاړوي او په دې اړه د نورو بدلونونو تمه هم کیدای شي. د دماغي ناروغۍ ادعا له هرڅه مخکې دا پوښتنه راپورته کوي چې قاتل ولې خپل ځان او یا خپل ملګري ویشتلي نه دي او یوازې یې افغانان او هغه هم ملکي خلک هدف ګرځولي دي.

د پیښې په باب د ولسي جرګې د پلټونکي پلاوي راپور وایي چې دغه ډله بیزه وژنه د همدې کلي تر څنګ پر امریکایي پوځیانو د ماین چاودنې په غچ کې ترسره شوې ده چې څو ورځې مخکې رامنځته شوې وه چې مرګ ژوبله یې درلوده. د دغه راپور له مخې د چاودنې سیمې ته له پوځي اډې نورو راغلو امریکایي پوځیانو د کلي خلکو ته د غچ اخیستلو ګواښ کړی و. دغه خبره د تورن قاتل وکیل د هغه خبرې سره سر خوري چې وایي موکل یې د ملکي افغانانوله وژلو یوه ورځ مخکې خپل یو ملګری پوځي لیدلی و چې په پنجوایي کې یې پښه له لاسه ورکړې وه، چې دا مسله د تورن قاتل دماغي ناروغۍ ادعا منتفي کوي. د دغه امریکایي پوځي په اړه وروستي خپاره شوي معلومات دا هم ښیي چې نوموړی د فریبکارۍ جرمي سابقه هم لري.

**د جرمي عمل حقوقي حیثیت**

نړیواله جنایي محکمه چې ۱۹۹۸ جولای کې جوړه شوه، دری ډوله نړیوال جرمونه د ټاکلو شرایطو له مخې تر خپل قضایي واک لاندې راولي. د نوموړې محکمې د اساسنامې له مخې په دغو نړیوال جرمونو کې "ډله بیزه وژنه"، "بشریت ضد جنایت" او" جنګي جنایات" راځي. که څه هم اساسنامه په پرنسیب کې د څلورم ډول جنایت یادونه هم کوي، چې هغه د ایرغل یا تیري جنایت دی. خو له کومه ځایه چې د وروستي ډول جنایت د تعریف په اړه د هیوادونو تر منځ تر دې مهاله توافق موجود نه دی نو ځکه دا مهال د محکمې قضایي واک لاندې نه راځي.

نړیوالې جنایي محکمې قانون چې د روم اساسنامې په نوم هم یادیږي، تر ټولو مهم نړیوال سند دی، چې د دغو درې ګونو جرمونو نه څرګند تعریف وړاندې کوي.

د دغه اساسنامې اوومه ماده د جرمي ډول ډول کړنو یو نوملړ وړاندې کوي چې د ځانګړو شرایطو په ملتیا سره "بشریت ضد جنایت" ګڼل کیږي، چې قتل د دغه نوملړ په سر کې راځي. د دغه مادې لومړی پاراګراف داسې وایي:

"د دغه اساسنامې له نظره هره یوه له لاندنیو کړنو څخه چې د یو پراخ یا سیستماتیک برید په ترځ کې د ملکي خلکو پر ضد او د برید په اړه په پوهې سره ترسره شي، بشریت ضد جنایت ګڼل کیږي."

د روم اساسنامه، وړاندې د اړوند جرمونو عناصر توضیح کوي او بشریت ضد جنایت ته د قتل په ډول د لاندې عناصرو یادونه کوي:

مرتکب یو یا زیات کسان وژلي وي.

کړنې د ملکي خلکو پر ضد په د پراخ یا سیستماتیک برید په لړ کې ترسره شوې وي.

مرتکب په دې پوه وي، چې کړنې یې د ملکي خلکو پر ضد د پراخ یا سیستماتیک برید برخه دي او یا په دې تکل ترسره کیږي.

دوهم عنصر هغه وضعیت او شرایطو په اړه ده چې په لړ کې یې قتل ترسره شوی دی. له دغه وضعیت نه منظور په داسې پراخ او یا سیستماتیک برید کې ګدون دی، چې موخه یې ملکي خلک وي او مرتکب له دې نه پوه وي چې برید د دولت اویا کوم سازمان د پلان او پالیسي له مخې ترسره کیږي اودا چې، برید د ملکي خلکوپر ضد ترسره کیږي. که څه هم اړینه نه ده چې مرتکب د داسې پلان او پالیسي په ټولو جزییاتو اوځانګړتیاو خبر اوسي.

د لومړي جرمي عنصر په برخه کې د "مرتکبینو" نه بلکې د "مرتکب" یادونه شوې، چې یوه وګړي ته اشاره ده. ځکه نو دغه عنصر ته په پام سره اړینه نه ده چې جنایت له یوه نه زیاتو کسانو ترسره کړی وي. بنا یو کس هم کولای شي چې بشریت ضد جنایت ترسره کړي.

د روم اساسنامه په خپله اتمه ماده کې یولړ جرمي اعمالو یادونه کوي چې جنګي جنایت ګڼل کیږي. د دغه جرمي اعمالو په سر کې یې د قصدي وژلو جنایت راځي. د نوموړې مادې د دریمي برخې پر بنسټ د کورنۍ جګړې په صورت کې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ژنیوا د ۱۹۴۸ د اګست ۱۲ مې څلورګونو کنوانسیونونو د دریمې مادې چې په دغو کنوانسیونوکې ګډه ماده هم بلل کیږي، د هغو کسانو وژنه چې په پوځي شخړو کې فعال ګډون نلري، جنګي جنایت بلل شوی دی. له کومه ځایه چې دغه جنایت د کورنۍ جګړې په وضعیت کې ترسره کیږي، نو جنګي جنایت هم بلل کیږي.

**د مجرم د محاکمې واک لرونکی هیواد**

د نړیوال جزايي حقوقو د یو عام اصل له مخې کله چې په یو هیواد کې داسې جرم رامنځته شي چې په کې په یو ډول، بهرنی عنصر په کې شامل وي، د مجرم یا مجرمینو د محاکمه کولو واک په لومړي سرکې په هغه هیواد پورې اړه لري، چې په قلمرو یا خاوره کې یې جرم تر سره شوی وي.
په دغه برخه کې هغه بهرني اتباع چې دیپلماتیک حیثیت لري، د کوربه هیواد د قضايي واک په وړاندې خوندیتوب لري.
د افغانستان قوانینو هم دغه اصل منلی دی. د افغانستان د جزا قانون د څوارلسمې مادې له مخې، دغه قانون پرهغو اشخاصو تطبیقیږي چې د افغانستان دولت اړوند ساحه کې د جرم مرتکب شي او د افغانستان اساسي قانون اوه پنځوسمه ماده بیا په افغانستان کې بهرني وګړي د نړیوال حقوقو په چوکاټ کې د افغانستان قوانینو پر رعایت ملکف کوي.
د کابل چارواکو په افغاني محکمه کې د تورن قاتل د محاکمې غوښتنه وکړه، چې دود په څیر امریکايي لوري یې په عمل کې دا غوښتنه رد کړه. د کابل چارواکو لخوا د داسې غوښتنې مطرح کول تر ډیره بریده سیاسي بڼه لري او ښايي د خلکو او په تیره بیا د اغیزمنو کورنیود کرارولو لپاره د تشو هڅو یو نمایش وي. ځکه د کابل اداري په ۲۰۰۲ کال کې له امریکا متحده ایالاتو سره یو تړون لاسلیک کړی، چې له مخې یې په افغانستان کې میشت امریکايي پوځیانو ته پکې د دیپلوماتیکو اړیکو په اړه ۱۹۶۱ کال د ویانا کنوانسیون له مخې معادل دیپلماتیک دریځ ورکړای شوی. دا چې د دغه تړون حقوقي مشروعیت څنګه دی، په عمومي نړیوال حقوقو اړه نیسي چې بیل بحث غواړي. خو یوه مسله څرګنده ده چې په دغه تړون کې د افغانستان د ملي حاکمیت په یوه مهمه برخه چې قضايي واکمني ده، له شرمه ډکه او خاینانه سودا شوې ده. دا چې د افغانستان پر چور او تالان ولاړ قضايي نظام له فني او حقوقي پلوه د عادلانه محاکمې وړتیا لري او که نه، بیله مسله ده.

دغه تړون چې "د پوځونو وضعیت په اړه موافقه" په نامه یادیږي، یو عمومي چوکاټ دی چې له مخې یې په بهرني یا بهرنیو هیوادونو کې د امریکا متحده ایالاتو میشت پوځونو وضعیت تنظیم کیږي. د افغانستان او امریکا تر منځ د دغه تړون تر ټولو خاینانه برخه دا ده چې له مخې یې په افغانستان کې میشت یوازې امریکايي پوځیان نه بلکې تر څنګ یې د دغه هیواد ټولو ناپوځي یا ملکي کارکوونکي هم د افغانستان له لوري په جنايي او مدني دواړو برخو کې د عدلي او قضايي تعقیب نه معاف کړای شوي اودیپلماتیک حیثیت ورکړل شوی دی.

دغه تړون یواړخیزدی او د افغان ملي ګټو سره ټکر لري. کابل حکومت نه یوازې امریکايي وګړي په افغانستان کې د جرم په صورت کې له افغاني محاکمې معاف کړي، بلکې په تیرو لسو کلونوکې امریکا متحده ایالاتو د تروریزم په تور ډیر افغانان یا پخپله له افغانستانه ګوانتانامو ته بیولي یا هم کابل حکومت ورته سپارلي او یا یې په افغانستان کې په خپلو زندانونو کې ساتلي دي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان اساسي قانون اته ویشتمې مادې له مخې هیڅ افغان وګړی د جرم په تور بهرني دولت ته نه سپارل کیږي مګر یوازې د ورته معاملې او د هغو بین الدول تړونونو په صورت کې چې افغانستان ورسره مل وي چې هیڅ داسې ورته یا بالمثله معامله وجود نلري.

**نړیوالې جنايي محکمې دریځ**

افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې د روم اساسنامه منلې ده او د نوموړې محکمې غړی هیواد دی. د نړیوالې جنايي محکمې قضايي واک یوازې تکمیلي خصلت لري او تکمیلي اصل له مخې دغه محکمه نه شي کولای چې یوه قضیه په داسې حال کې وڅیري چې هغه د قضايي واک لرونکي دولت لخوا تر څیړنې او عدلي تعقیب لاندې وي. دغه محکمه یوازې هغه مهال د خپل قضايي واک لاندې جرمونو په اړه مداخله کولای شي، چې یو قضايي واک لرونکی دولت د مجرم د محاکمه کولو لیوالتیا ونلري او یا دا کار یې په وس کې نه وي، لکه د کابل ادارې مشر حامد کرزي چې د پنجوايي اغیزمنو کورنیو د نیوکو په ځواب کې وویل چې ملامت دی او ځواب نلري.
له بلې خوا نړیواله جنايي محکمه، نړیوال قضايي واک نلري او دغه جغرافیايي محدویت ته په پام سره، نوموړې محکمه یوازې تر ځانګړو شرایطو لاندې مداخله کولای شي. د دغو شرایطو له جملې یو دا دی، چې مجرم باید د هغه هیواد وګړی وي، چې د روم اساسنامه غړیتوب ولري او یا یې د دغه محکمې قضايي واک منلی وي، چې امریکا متحده ایالات دغه اساسنامه نه ده منلې او ځکه یې پر وړاندې ژمنتیا نلري.
بناّ، اوس چې تورن قاتل امریکا ته انتقال شوی هغسې چې امریکايي چارواکو ویلي دي، باید محاکمه شي.
محاکمه، باید عادلانه وي. د داسې محاکمې لپاره دا مهمه ده، چې محاکمه علني وي، متضررو کورنیو ته هم لکه چې ویل شي د شواهدو وړاندې کولو فرصت ورکړل شي. په دې برخه کې، هغه شواهد چې د


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پیښې په باب د افغانستان له لوري دولتي پلاویو راټول کړي او یا هم که نورو بې پرې سازمانونو یا اشخاصو راټول کړي وي، اړوندې محکمې ته وړاندې کړای شي.

د قضیې په مدني برخه کې تر ټولو مهم ټکی دا دی چې امریکایي محکمه اغیزمنو کورنیو ته د هغه معیار له مخې ځاني تاوان یا غرامت ورکولو زمینه برابره کړي، چې د یو امریکایي تبعه کورنۍ ته د قتل په صورت کې ورکول کیږي. په دې برخه کې باید د افغان انسان او امریکایي انسان تر منځ توپیر ونه شي. لکه څنګه چې امریکا متحده ایالات بشر حقوقو د "نړیوالتوب" ادعا کوي نو پکارده چې د ځاني تاوان یا د انسان د سر بیې په اړه هم د بشر حقوقو "نړیوالتوب" ومني.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ